درنو هېوادوالو!

افغاني سره میاشت د بشرپالنې د اصـل پر اســـاس طبيعي او غير طبيعي پېښځپلو سره له تبعيض پرته مرستې ترسره کوي، دا خيريه بنسټ تل هڅه کوي؛ تر څو بشري کړاوونه راکم او د ژوند، روغتيا او انساني کرامت ساتنه وکړي.

شماره: چهارم

# ماهــنامه الکــترونـیکی

ماه ربیع الثانی سال ۱۴۴۴هـ ق

هدف از تاسیس وایجاد جمعیت هلال احمر افغانی بعنوان یک نهاد خیریه ملی ومستقل، بیطرف وعدم جانبدار این است که، آلام ومصـایب آسیب دیده گان حوادث را تقلیل بخشـد. عرضهٔ خدمات صحی را بمردم نیازمند که بدور از مراکز صحی قرار دارند، انجام دهد. از اقشارمختلف جامعه، مردم خیر اندیش را بعنوان رضاکار و عضو، جلب و جذب نماید. برای تسهیل امور معیشتی خانواده های بی بضاعت، مرستون های را در ولایات کشور تآسیس نماید. پروژه های عام المنفعه را نیز به کمک شرکای کاری در دور ترین نقاط کشور بمنظور رفع مشکلات مردم راه اندازی کند. این درحال است کـــه جمعیت هلال احمر افغانی واحد بودجوی دولت نبوده بلکه مصارف خدمات بشردوستانه آن از طریق کمک های شرکای کاری، تجار محترم ملی، مردم خیر اندیش کشـــور، مؤسســـات خیریه ملی وبین المللی، جمعیت های ملی مماثل وعواید ملکیت این نهاد خیریه، تهیه میگردد. روی این ملحوظ همکاری وهماهنگی مردم خیر اندیش کشــــور را برای توسعهٔ پروژه های عام المنفعه و خدمات بشری ضرورت دارد.

## د ۱۴۴۴ کال د ربیع الثانی میاشت کې پېښو ته د پېښو د اداري د ریاست د ځواب وینې راپور

| | | |
|---|---|---|
| پکتیکا | ۳۴۸۱۴تنو | سره خوراکي او نغدي مرسته |
| پنجشیر | ۴تنو | سره غیر خوراکي توکو مرسته |
| جوزجان | ۶۵۴۶ تنو | سره خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته |
| خوست | ۱۷۱۴۷تنو | سره نغدي مرسته |
| دایکندی | ۶۹۱۸تنو | سره خوراکي او غیر خوراکي مرسته |
| زابل | ۳۶۳۰تنو | سره خوراکي توکو مرسته |
| سرپل | ۳۳۳۸تنو | سره خوراکي توکو مرسته |
| سمنگان | ۱۵۵۶تنو | سره نغدي مرسته |
| غزنی | ۱۲۴۶تنو | سره نغدي مرسته |
| فاریاب | ۳۴۱۱ تنو | سره خوراکي توکو مرسته |
| کابل | ۱۲۵۰۱ تنو | سره خوراکي توکو مرسته |
| کاپیسا | ۷۴۹ تنو | سره نغدي مرسته |
| کندهار | ۲۱۰۰تنو | سره خوراکي مرسته |
| لغمان | ۹تنو | سره خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته |
| لوگر | ۳۹۳تنو | سره غیر خوراکي توکو مرسته |
| ننگرهار | ۴۲۶۸ تنو | سره خوراکي توکو مرسته |
| بغلان | ۵تنو | سره خوراکي او نغدي مرسته |
| نورستان | ۷۳۷۳تنو | سره خوراکي توکو مرسته |
| هرات | ۳۷۵۹تنو | سره خوراکي توکو مرسته |

## فعالیت‌های اداره حوادث:



اداره حوادث جمعیت هلال احمر افغانی در ماه ربیع الثانی ســـال ۱۴۴۴ هجری قمری برای ۱۰۹۷۶۷ تن مواد غذایی، غیری غذایی و پول نقد که از سوی شرکای کاری هلال احمر افغانی تهیه شده بود، در ولایات هرات، نورستان، ننگرهار، لوگر، لغمان، قندهار، کاپیســـا، کابل، فاریاب، غزنی، سـمنگان، سرپل، زابل، دایکندی، خوســت، جوزجان، پنجشــــیر، پکتیکا و بغلان به آسیب دیده گان حوادث توزیع نمود.

## د روغتیایي خدمتونو د ریاست فعالیتونه



د افغاني سرې میاشتې د روغتیایي خدمتونو ریاست د ۱۴۴۴ ســپوږمیز کال په ربیع الثاني کې د مرکزي رغتون، ثابتو کلینیکونو، ګرځندو، فرعـي او کتلوي معافیت ټیمونو له لارې دوه لکه یوویشـت زره یوسلو شـــپږدیرش (۲۲۱۱۳۶) تنه ناروغانو ته روغتیایي خدمات وړاندې کړي.

## د ځوانانو او رضاکارانو د اداري د ریاست کړنې



د افغاني سرې میاشتې د ځوانانو او رضاکارانو د اداري ریاست د ۱۴۴۴ قمري کال د ربیع الثاني په میاشـــــت کې د هېواد په کچه ۲۰۰ تنه وګړي د غړو په توګه جذب او منلي او تر څنګ یې د کندهار په سیمه ییزو دفترونو او ننګرهار کې ۳۸۰ تنه رضـــاکارانو ته د ظرفیت لوړاوي ورکشــــاپونه دایر کړي او همدارنګه ۴۶۰۰ تنه نارینه او ښځینه زده کوونکو ته یې په کلوپونو کې د کمپیوټر، انګلیســـي او دیني زده کړو ښوونه کړې.

## د مرستون د اداري فعالیتونه



د افغاني سـرې میاشـتې ټولنې د مرسـتونونو د اداري ریاســت د ۱۴۴۴ ســپوږمیز کال د ربیع الثاني په میاشـــت کې کابل، کندهار، ننګرهار، هرات او بلخ ولایتونو کې ۹۷۰ تنو میاشـتنی اعاشـه او اباته چمتو کړې. ددې ســربېره یې د نوموړوکورنیو ماشــومانو ته د ښــوونې او روزنې ترڅنګ د مشمولینو د ځان بساینې په موخه د خیاطی، ګلدوزی او غالی اوبدلو د زده کړو پروګرامونه هم په لاره اچولي، تـرڅنګ یــې کابل مرستون کې ٦٩ تنه مشـمولو رواني ناروغانو ته لازمې مشـورې ورکړې دي. همدارنګه کابل ولایت کې یې ۲۰۸۲ تنه سـوالګرو ته په میاشـتنی توګه دوه دوه زره افغانی، چې ټولټال څلور میلیونه یو لک او څلورشپېته زره (۴۱٦۴۰۰۰) افغانی کېږي؛ وېشلې دي او دا لړۍ لاهم دوام لري.

Afghan Red Crescent Society

آدرس: افغانستان، کابل، ناحیه پنجم، افشارسیلو، دفتر مرکزی جمعیت هلال احمر افغانی

info@arcs.af
www.arcs.af

۰۷۲ ۸۹۰۰ ۱۰۳
۰۷۲ ۸۹۰۰ ٦۷۴

پست بکس: ۳۰٦٦